عزیز نسین
ژباړه: فرهاد ویاړ


## هغه پاچا چې کارغانو انتخاب کړ

و، نه و... په پخوا وختونو کې، په يوه هيواد کي ، يو غريب سړی و چي آن خپله ورځني ډوډی يي نلرله، بيوزله و، خو بد زړه او بد نيته نه و. ټوله هيله يي له نورو سره کمک او نيکي وه. سره له دي چي د کمک هيله يي لرله، خو په ښه ډول نه پوهيدو چي څرنګه نيکي وکړي. اکثره به يي له ځان سره ويل:

- کاشکي، کاشکي! قدرت مي لرله چي دې ټولو انسانانو سره مي مرسته کولی.

چا به چي د هغه دا خبرې اوريدلي، پوښتنه به يي کوله:

- ډير ښه، څرنګه به خلکو سره مرسته وکړی؟

او هغه ځواب ورکاوه:

- مرسته، د هر چا سره به مرسته وکړم.... اوس يي پريږده، يوځل خو هغه ورځ راورسيږي؛ پوهيږم چي څرنګه خلکو سره مرسته او کمک وکړم.

يوه ورځ د غره پر سر ناست و او د شونډې لاندې يي زمزمه کوله:

ای کاش پروردګار را سره مرسته کړی وی څو د بشر له اولاد سره مي نيکی کولای.

يو لاروی چي د هغه له څنګه تيريده، د هغه خبرې يي واوريدې او ورته يي وويل:

- سلام زويه...

چا چي د نورو سره د مرستي هيله لرله، سر يي راتاو کړ، ويې ليدل چي مخي ته يي يو سپين ږيري سړی چي ږيره يي تر نامه پوري اوږده ده، ودريدلی دی. هغه ته يي وويل:

- سلام پلار جانه...

سپين ږيري له هغه وپوښتل:

- ولي داسي له ځان سره خبرې کوی؟ له خدا دي څه غوښتل؟

هغه هم څومره چي ژبه يي کار کاوه، د نورو سره د مرستي په اړه وغږيد او وغږيد. او په دې اړه چي څومره يي زړه په انسانانو سوځي، په آب و تاب سره خبري وکړی.

سپين ږيري وپوښتل:

- ستا په شان ډېرو نورو کسانو هم لستوني رانغښتي وو، غوښتل يې چې له نورو سره نيکي وکړي. کاشکی تا د دې نيکي د پلي کولو لاره پيژندی، نو دومره نيکي به دې خلکو ته نه غوښتلی. د انسانانو سره نيکي کول له بدي کولو هم ډېره ستونزمنه ده. له هغه ورځ چې دنيا پيدا او رامنځته شوی ده، ډير کم کسان پيدا شوي دي چې دا کار تر سره کړي...

سړي د سپين ږيري دا نصيحت او وصيت واوريد او د دې پر ځای چې هغي ته پاملرنه وکړي، سپين ږيري ته يې وويل:

- هو! زه د نورو په شان نه يم. يو ځل خو پريړده چې دغه مقام او ځای ته ورسيږم، د ځمکي له سره به د ټولو بديو جرړی وکاږم. نور به څوک وږی او تږی نه وي. څوک به لغړ او بيوزله نه وي. جګړه او شخړه به نه وي.... ټول کارونه به سم کړم.

سپين ږيري وويل:

- ډيره هيله لری، خو نه پوهيږی چې څنګه يې تر سره کړی. هغوی چې له تا مخکي وو او دا ډول هيلي يې لرلي هم نه پوهيدل چې څرنګه دې هيلي ته ورسيږي. له همدې کبله له خپلي هيلي تير شول او خپل کار پسي لاړل.

خو هغه وويل:

- پر ځمکي باندې له نيکي بل کوم آسان کار نشته...

سپين ږيري ورته وويل:

- هی، دومره چې د نورو سره د نيکی هيله لري، نو دولته مه ودريږه. حرکت وکړه، سياحت وکړه... داسي يو ځای ته به ورسيږی، داسي وخت به راشي چې ته هم د خپلي خوښي لوړ ځای او مقام ته ورسيږی...

هغه يوازې او يوازې د سپين ږيري همدا خبره ومنله او سفر يې پيل کړ... هلته ته تلو او دلته راتلو. کلونه کلونه سفر کوي. هر چيرې چې ځي په دې اړه نورو ته وايي چې څومره د بشر د اولاد سره د نيکی لپاره شپه او ورځ بيقراره او نارامه دی.

د همدې سفرونو په ترڅ کي يو ورځ د لمر راپورته کيدو سره متوجه شو چې يو ليرې ښار ته رسيدلی دی. ښار د کلاګانو او ديوالونو سره محاصره شوی و خو هغه د ښار د دننه کيدو دروازه پيدا کړه او ښار ته ننوت. د ښار له ليدو حيران شو. ښار له انسانانو ډک و، ډک او ډک.... زه وايم سل زره کسان او ته هم ووايه دری سوه زره کسان... د خلکو سر او پای نه ښکاره کيدو. هغه هم د خلکو په ګڼي ګوڼي کې په فکر کې وليږي. له هرې خوا آوازونه اوچت دي. هغه د خلکو خبرو ته غوږ کينود چې ويل يې:

- هيوادوالو! زه تاسو ته د نيکی کولو هيله لرم. زما د پادچاهی د انتخاب لپاره کارغانو ته ووايه. که کارغان ما پاچاهی ته انتخاب کړي وبه ګورئ چې ستاسو لپاره به څومره ښه کارونه تر سره کړم. د دې ښار په ويالو کې به شربتونه بهيږي، د ځمکي لاندې به ډبرين پياده روې جوړې شي. د آسمان څخه د باران پر ځای به شربت وروم. يو لاس به مو په غوړو او بل به مو په شاتو کې وي. هره ورځ به د باقلويا او سمبوسو او نورو خوندورو خواړو څخه ماړه او بالاخره به ترې بيزاره شی او زړه به مو ووهي. دومره به هوسا شی چې دا هوساينه به تاسو نارامه کړي. ګرانو هيوادوالو! کارغانو ته ووايا‌ست چې ما پاچا کړي.

هغه د دې خبرو په اوريدولو سره چې د هر چا له ژبي راپورته کيدي، حيران شو. خپل څنګ ته يې نظر واچو. همغه سپين ږيری چې ږيره يې نامه پورې وه او کلونه وړاندې د هغي سره د يوه غره پر سر مخامخ شوی و، ودريدلی و. آيا په رښتيا هغه و؟

- سلام پلار جانه...
سپین ږیرې هم ځواب ورکړ:
- وعلیکم وسلام ګرانه زویه...
- ګورم چې په دې ښار کې هر څوک خبرې کوي. نو ولې دوې د خبرو پر مهال دومره چیغې او فریادونه وهي؟...
- هر څوک فکر کوي چې یوازې په خپله کولای شي خلکو ته خدمت وکړي، خو څرنګه؟ د دې کار د خدمت په لارو نه پوهیږي او له همدې امله چیغې...
- آیا دا کسان تل داسې چیغې او فریادونه وهي؟
- نه. په یوه انتخاباتو او بل انتخاباتو کې. دلته هر کال یو ځل انتخابات تر سره کیږي. د انتخاباتو وخت چې راورسیږي هر څوک هلې ځلې کوي چې انتخاب شي.
- ولې؟
- ځکه هر څوک ګمان کوي چې یوازې هغه ښه خدمت کولای شي. ټول غواړي چې نیکې وکړي. هیڅوک نشته چې بدي وکړي.
- دلته څوک انتخابوي؟
- پاچا انتخابوي... دا مملکت د نورو مملکتونو په شان نه دی. دلته پاچاهي له پلار څخه زوي ته په میراث نه پاتې کیږي. هر کال د خلکو له منځ څخه یو تن پاچا انتخابیږي. انتخاب شوی پاچا که د خلکو سره په خپلو ژمنو وفادار پاتې شي نو پاچا پاتې کیږي، پرته له هغې په راتلونکي کال کې بل څوک د پاچا په توګه انتخابیږي. تر اوسه پورې داسې څوک نه دې پیدا شوی چې له یو کال زیات یې پاچاهي کړې وي.
- ډیر ښه، نو ولې د «کارغه، کارغه!» چیغې وهي؟
- په دې مملکت کې کارغان پاچاګان انتخابوي. له همدې کبله د کارغه کارغه چیغې وهي.
په دې وخت کې هوا تیاره شوه او آسمان د کارغانو له سیورې ډک شو چې ان لمر هم نه لیدل کیدو. کارغانو د انسانانو پر سر کاغ کاغ کولو سر الوتل او هر چا په چیغو او نعرو سره کارغانو ته ویل:
- کارغه وروره، کارغه وروره، د خدای لپاره ما انتخاب کړه!
ټولو، کارغانو ته عذر او زارې کوله. کارغانو هم پرواز بس کړ او له قاغ قاغ کولو څخه لاس په سر شول، یو کارغه غلې کښېنتې خوا ته پرواز کوي او د یو سړي پر سر چې کلونه یې د خلکو د خدمت لپاره دښتې او بیدیاوې شا ته پرېښودې وی تاویدل پیلوي. کارغه تاویږي تاویږي او قاغ قاغ کوي او د سړي پر سر خپله چټلي کوي. بیا بیرته آسمان ته پورته کیږي.
په دې وخت کې خلکو په لوړ آواز چیغې وکړی:
- درې، یوه برخه دی پاچا شوه، له درې برخو څخه دې یوه برخه پاچا شوه!
هغه د دې کار سره حیران شو او له سپین ږیرې یې وپوښتل:
- دا څه خبره ده، دلته څه روان دي؟...
- دلته د پاچا انتخاب په دې ډول کیږي. یو کارغه که درې ځل خپله چټلي د هر چا پر سر وکړي، هماغه کس د مملکت پاچا کیږي. له درې برخو څخه دې یوه برخه پاچا شوه. دعا وکړه چې بیا هم کارغه دې پر سر چټلي وکړي. په دې وخت کې بیا کارغه ځانګونه خلاص او وزر وهولو سره راغی او د هغه سړي پر سر یې بیا چټلي وکړه. خلکو چیغې کړی:

-  له درې برخې دې، دوه برخې پاچا شوی !

نور له دې لپاره چې کارغان بیا د همغه سرې پر سر چټلي ونکړي، خپل سرونه لوڅ کړل او چيغې وهلې:

- دلته، کارغه ورره! دلته، کارغه وروره!

او کارغه ته يې عذر او زاري کوله چې پر سرونه يې چټلي وکړي.

کارغه دې خبرو ته غوږ نشو او دريم ځلي يې هم د همغه سړي پر سر چټلي وکړه. په دې وخت کې خلکو غږ کړی:

-  مبارکه دې شه، نور نو پاچا شوی!

هغه يې پر اوږو مانۍ ته ويوړ.

دا سړی چې پاچا شوی و، د کارغانو د نيکی احسانمند و او هيڅکله يې د کارغانو دا نيکي چې هغه يې پاچا کړی و، نشوه هيرولی. يو څه وخت وروسته هغه فرمان صادر کړ چې ټول ټوټه ای انسانان چې د کارغانو او مارغانو د ويرولو لپاره په کروندو کې ايښودل شوي وو، د باغونو او کروندو څخه ليرې کړي.

ډير ژر هغو کسانو چې کارغان په ګټو ويشتل او شړل يې، محکمې ته وليږل شول او هغوی ته جزا ورکړل شوه. نوي پاچا په دې هم بسنه ونکړه او امر يې ورکړ چې هره کورنی هره ورځ کارغانو ته يو موټی داني وشيندي.

خلک له دې کارونو څخه ناراضه وو او د ژبې لاندې يې غرغر کاوه. خو د پاچا سترګې له کارغانو پرته بل څه نه ليدل. لومړی کال همداسې تير شو او نوې ټاکني راورسيدې.

بيا هم د هغې مملکت خلک د ښار يوه ميدان ته راغونډ شول. د پخواني ځل په شان هر چا د انتخاب کيدلو لپاره کارغانو ته عذر او زاري کوله او هر چا د انسانانو لپاره د ښه خدمت کولو ژمنه کوله. د کارغانو ورېځ راڅرګنده شوه. بيا هم آسمان تورتم شو. د قاغ قاغ انګازو چاپيريال ډک کړ. هر کال يوه کارغه پاچا ټاکو، خو سږکال کارغانو د دې لپاره چې د پاچا د ښو کارونو څخه مننه او تشکر کړی وي، لس کارغان راغلل او د پخواني پاچا پر سر يې درې ځله چټلي وکړه او بيرته لاړ. پاچا د دې لپاره چې کارغانو هغه يو ځل بيا انتخاب کړی و او د دې لپاره چې د کارغانو دومره زياته مينه او مهربانی هيره نکړي، امر يې وکړ چې هر څوک بايد شل شل کارغان په خپل کور کې وروزي.

پاچا د دې لپاره چې  د کارغانو يخني ونشي او له يخني او باد څخه خوندي وي، د هغوی لپاره يې ځانګړې ځالې جوړې کړی. کارغانو د دې بی کچې پاملرنې او زياتې روزنې له امله تر څو چې وکړای شول لوې او لا لوی شول او چاغ او وپړسيدل. هر کارغه د يو پيل مرغ په اندازه غټ شوی و. بيا د ټاکنو وخت راورسيد. خلکو د ناراضتيا له امله د ژبې لاندې غر غر کاوه او پاچا ورته هيڅ ګران نه و، خو دې ځيګروي څه ګټه لرله، په دې ټاکنو کې هم سل پيل مرغ ډوله کارغان بيا هم د پاچا پر سر  همغه د چټلي کولو مهرباني کوي. پاچا د دريم ځل لپاره ټاکل کيږي او فرمان ورکوي: بايد د کارغانو په ځان کې يوه سپکه هم پاتې نشي، سپګې بايد پاکې شي او د کارغانو بدن له صابون سره پريمنځل شي او پاک شي. پښې يې چاپې او  سخت ځايونه يې غوړ شي!

کارغان په ښه ډول تغذيه او روزل کيږي او هر يو يې د يوه پسه په اندازه غټيږي او شمير يې هم د ورځو په تيريدو سره ډيريږي. داسې ورځ راورسيده چې دا چاغ کارغان نور نو  په ښار کې نه ځای کيدل.

بيا هم د انتخاباتو وخت راورسيد. په دې انتخاباتو کې له پاچا څخه د زياتې منندوې لپاره، په يوځلي پنځه سوه کارغانو د درې ځل لپاره د پخواني پاچا سر خوښ کړ. پاچا هم د کارغانو دومره خيال او پام کاوه چې بالاخره خلکو

د کارغانو له لاسه خپل کورونه او جونګړې پرېښودې او غرونو او دښتو ته کډه شول. تغذیه شوي کارغان نور نو د لوي غوايانو په شان چاغ شوي وو.

یوه بل انتخابات هم وشول. په آسمان کې غوايي ډوله کارغانو په الوتنې پیل کړی و. د تریخ زوږ او شور ځخه يې غوږونه کاڼه کیدل. دا ځل کارغانو د پاچا د خدمتونو د جبران او د احسان د پوره کولو لپاره په ډله ایز ډول خپله **مننه** د پاچا پر سر خوشې کړه.

خلک انتخاب شوي پاچا ته نژدې شول او غوښتل يې چې هغه له ځان سره د پاچاهی مانۍ ته ویسي. خو وې لیدل چې د کارغانو د فضله موادو ځخه غونډۍ جوړه شوی او پاچا هم د دې غونډۍ لاندې پاتې او ټوټه ټوټه شوی و.

خلکو د خوشالی سره په چیغو او نعرو پیل کړی:

- کارغه وروه، ما انتخاب کړه! کارغه وروره ما انتخاب کړه!....